


د مولانا سعید افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



# فاروق « فردا »

د نشرنیټه : 6 اګست 2022 میلادی

# غزل

ځم د شپې کوڅه کښې رنګارنګ خیالونه سکونډي مې
غرونه غرونه لیرې ستا د ښکنګ خیالونه سکونډي مې

نه مې وايي زړه چې د ګناه شپه مې ده تا سره
ستا د تن د عطرو او لونګ خیالونه سکونډي مې

پرانیزه لاسونه چې دې غیږه کښې در ولویږم
ومې نیسه ټینګ مې کړه د جنګ خیالونه سکونډي مې

زما د اوښکو پیغلې ستا د حسن خم ته نه ناځي
بس چې د ساقي د جام د کړنګ خیالونه سکونډي مې

څومره چې د شعر او غزل شهي ته وګورم
هغو مره فردا د تا ملنګ خیالونه سکونډي مې

***

فاروق « فردا »

د اګست شپږمه ـ2022

www.said-afghani.org ــ بازګشت به صفحه اصلی